امین بسمل

۰۱ـ ۱۰ـ ۲۰۱۰

## ځیر اوسئ

## انترنیت کاروونکو ته یوه اړینه خبرتیا

دانترنیت درانه کاروونکي هیوادوال او زمانېردي ملګري دې خبر اوسي چې د تکنالوژي له پرمختګ سره یو ځای یوشمېر داسې ناوړه انسانان را مینځ ته شوي چې آن ستاسو پوره ایمیل درڅخه غلا کولای شي . داغله لمړی تاسو ته ستاسودکوم اشناپه نوم یوعادي ایمیل درلیږي کله چې تاسوایمیل خلاص کړنوبیاستاسو د ایمیل پټ کود ورسپنې بیانوستاسو له کمپیوتر څخه ټول خوندي اسناد کاپي او یايې غلا کوي .
کله يې چې ستاسو نږدې دوستان وپېژندل بیا نوستاسو دایمیل لار بندوي او هڅه کوي چې په ډېر کم وخت کې ستاسو اشنایانو ته ستاسو په نوم لیکونه ورولیږي او په ډول ډول پلمو ورڅخه پیسې تر لاسه کړي .
همدا لوبه له ماسره هم وشوه نږدې پنځه ورځې کیږي چې زما پخوانی ایمیل a.c.besmel@hotmail.de له کارڅخه لوېدلی دی مانا زه يې نه شم کارولی .
نن ماښام زمایو اشنا له قزاقستان څخه ماته تیلیفون وکړ او په وارخطايي سره يې راته وویل چې ته چېرې يې؟
ما په خنداخندا ورته وویل چې ته په سوریې زه خو په جرمني کې یم دا ته ولې داسې وارخطا غوندې يې ؟
هغه راته وویل چې ستا په نوم ایمیل راغلی او داسې پکې لیکل شوي چې زه په لندن کې غلو نیولی یم پنځه زره ایرو راته پیدا کړه چې ما پرېږدي .
ماورته وویل چې مه وارخطا کېږه زه روغ رمټ اوپه جرمني کې یم نه انګرېزانو ته ورغلی یم اونه يې مخونه لیدلي غواړم .
البته دوه ورځې مخکې ما دسولې اونېنتر په وبپلاګونو کې هم خپلو ملګرو ته خبر ورکړی و چې زما ایمیل غلا شوی که تاسوکوم ضروري کار له ما سره لرئ نو پدې ۰۰۴۹۱۷۳۴۷۰۸۳۸۸ شمېره له ماسره اړیکه ونیسئ .

خو نن چې له قزاقستان څخه زما اشنا تیلیفون راته وکړ ماته داخبره خورا جدي ښکاره شوه کېدای شي زما ډېرو نورو ملګرو ته به هم دې غله یا غلو لیکونه ورلیږلي وي خو داچې زما ایمیل زما له اختیار څخه لوېدلی ځکه مې له خپلو ملګرو او اشنایانو سره اړیکه شکېدلې ده له همدې کبله مې یو ځل بیا نن په پاس ډول دخپل تیلیفون شمېره ولیکله تر څو دضرورت په صورت کې زما ملګري را سره اړیکه ټینګه کړي .

تر کومه چې داپېښه یوه جرمي پېښه ده نومې نن ماښام په اتوبجو او پنځه دېرشو دقیقو دخپلې سیمې پولیسو ته جریان ووېل تر څود لا پرمختللي تکنالوژي او انتر پول په مرسته دا جعل کار یا جعلکاران ونیسي .